## مطبوعاتي اعلامیه

## څوک به د ختیځ ترکستان ملاتړ وکړي او څوک به د چین د ظلمونو مخه ونیسي!؟

د حزب التحریر ولایه ترکیې څانګې په انقره کې د ملکه خاتون جومات، په استانبول کې د چین قونسلګرۍ، په ادانه کې د اولو جومات، په هیټې سیمه کې د السینا جومات او په مرسن کې د اولو جومات مخې ته د ډسمبر پر ۱۳مه د «څوک به د ختیځ ترکستان ملاتړ وکړي او څوک به د چین د ظلمونو مخه ونیسي!؟» تر شعار لاندې لاریون وکړ. له ختیځ ترکستان څخه یو شمېر نارینه او ښځینه مسلمانانو کډوالو هم په دغو لاریونونو کې برخه اخیستې وه او په لاندې مسایلو یې ټینګار کاوه:

**اې مسلمانانو!** د بشر د غوره امت (ختیځ ترکستان) د ژړاوو غږونه الهي تخت لړزوي، ایا تاسو یې نه اورئ؟ د دوی چیغو د الله سبحانه وتعالی د مهربانۍ تخت ته ټکان ورکړ، ایا تاسو یې نه احساسوئ؟ د اویغور مسلمان وروڼه په ډېرې بې رحمۍ سره وژل کېږي، ایا تاسو یې نه وینئ؟ د چین دولت دوی له داسې ظلم او شکنجې سره مخ کړي، چې د هر انساني بشر زړه ټوټې کوي. څوک به د دغو ظالمو کمونستانو ظلم ته د پای ټکی کېږدي؟ څوک به داویغور د مسلمانانو ګیلې ختمې کړي؟ ایا بیا هم پر ملګرو ملتونو باور کولی شو، چا چې د بوسنیا مسلمانان د صرب د قصابانو تر چړو ورسول!؟ ایا تاسو اوس هم د ملګرو ملتونو مرستې ته په تمه یاست!؟ هغوی چې تل یې اسلامي خاورې د امریکایي ګټو د خوندي کولو په موخه اشغال کړې دي. په الله سبحانه وتعالی قسم چې ملګرو ملتونو ته د ختیځ ترکستان د مسلمانانو د برخلیک سپارل د دوی پر حقوقو د تیري پر مانا دی او دا د ختیځ ترکستان د مسلمانانو پر وړاندې له خیانت پرته بل څه نه دي.

**اې د اسلامي نړۍ چارواکو!** تاسو ډېرې تېروتنې وکړې! تاسو خپلې سوداګرۍ ته پر خپل بشریت، غرور او عزت لومړیتوب ورکړ او له چین سره د خپلو اړیکو د ساتلو په موخه مو د اویغور مسلمانان له یاده وایستل. په داسې حال کې چې د اویغور د مسلمانو وروڼو او خویندو دفاع پر تاسو واجب ده؛ نو له خپلو وروڼو او د اویغور او ختیځ ترکستان له هغو کډوالو څخه مخ مه اړوئ چې د خپلو وروڼو په توګه یې تاسو او اناتولیا سیمې ته، چې په مهربانۍ مشهوره ده، پناه دروړې ده.

**او اې د چین اشغالګرو کفارو!** د اسلامي نړۍ د واکمنانو پر خاموشۍ او خپل شمېر مه تېروځئ. تاسو باید پوه شئ، چې دغه ظلمونه به مو د قیامت تر ورځې دوام ونه کړي. ډېر ژر به د الله سبحانه وتعالی په رضا د نبوت پر تګلاره راشده خلافت تاسیس شي او مسلمانان به تر یوه بیراغ لاندې سره را ټول کړي. دوی او د دوی موخې به

متحدي کړي. پوځونه به يې يو ځای او ستاسو د ظلمونو په ګډون به نورو ټولو ظلمونو او جنايتونو ته د پای ټکی کېږدي.

**اې په ختيځ ترکستان کې زموږ مسلمانو ورونو!** پر روانو ظلمونو سربېره خپل دين ته غاړه کېږدئ، پر خپله عقيده ټينګ اوسئ او د خپلو ماشومانو لپاره مو د اسلامي عقيدې زده کړې ته دوام ورکړئ. دا عقيده تاسو، ستاسو ماشومان او هغه راتلونکی نسل ژغوري، چې له تاسو وروسته به دې نړۍ او د حساب ورځې ته راځي.

له هغو خلکو سره پام کوئ، چې ستاسو ستونزې ته د اسلام له زاويې نه ګوري او تاسو توکمپالنې او قومپالنې ته هڅوي. ياد ساتئ چې د ختيځ ترکستان مسله په اسلامي امت پورې تړاو لري او کله چې اسلام نه وي، نو هېڅ کور او هېواد به نه وي! الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ الْأَشْهَادُ﴾**

[غافر: ۵۱]

***ژباړه:*** *باور ولرئ، موږ هرومرو هم په دې دنيا او هم په اخرت کې، چې شاهدان ولاړ وي، د خپلو پيغمبرانو او مومنانو مرسته کوو.*

## د حزب التحرير-ولايه ترکيه مطبوعاتي دفتر

## ۱۴۴۱هـ.ق کال، ربيع الثاني ۱٦مه

## ۲۰۱۹م کال، د ډسمبر ۱۳مه

## د صدور ګڼه: ۰٦ /۱۴۴۱